مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۲/۰۹/۲۹

د الله حکم هېرېږي، د بنده حکم تحمیلېږي

د خدای حکم «فرض»

د بنده حکم «مباح»

د هغه سرپرست وزیر صیب، د څرګندونو یوه ګټه دا وه چې بحث ته یې لاره پرانیسته او موږ غوندې عوامو ته هم فرصت پیدا شو چې حد اقل خپله پوښتنه مطرح کړو.

په انفال سورت کې لولو:

"وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ"...

یعنې له خپل دښمن سره په مقابله کې ټول قوت اماده کړئ.

ښه،

په دې خو ټول پوهیږو چې د خدای ج حکم فرض دی. او په دې هم پوهیږو چې معاصر دښمنان مو په ډېرو پرمختللو اټومي وسلو سنبال دي.

او په دې هم پوهیږو چې له دوی سره مقابله، پرته له عصري علومو (ساینس او ټکنالوژۍ) ناممکنه ده.

نو،

که دنیاوي علوم مباح وي، یعنې څوک پرې مکلف نه وي، حتی ترې منع کیدلی هم شي، نو په داسې حالت کې د خدای ج پورته حکم عملي کیدای شي؟

مباح ګڼل یې د دغه الهي حکم د عملي کیدو په وړاندې خنډ جوړول نه دي؟

فقط غواړم ځان پوه کړم.

درناوی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ